



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروغجن

(ناول)

لیکوال : آیزاک اسیموف

ژباړه میراحمد یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

# د خوشبو د خوب خوشبو ته!

یاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

(الفرد لانینګ) په لړزېدونکو ګوتو سګرټ روښانه کړ، تورې او سپینې وروځې یې د خبرو په وخت ښکته پورته کېدې.

– هغه فکرونه ډېر ښه لولي ! خدایزه ولې؟

ریاضي پوه (پیټر باګرټ) ته یې وکتل:

– ښه نو ؟

باګرت خپل سر په دواړو لاسونو نیولای و... ویې ویل:

– دا دري ځلو ښښتم (ماډل) دی چې جوړوو یې لانینګ نور ټول یې بیخي سم وو.

دریم کس تندی راځوړند کړی و، په مېز ناست و، دا (میلټن آش) نومېده او د روبوټ جوړولو د شرکت تر ټولو ځوان مامورو، ده پر خپل ځان او مقام فخر کاوه:

– باګرت ته زما خبره واوره ! له پېله تر د نصب کولو په ټولې پروسې کې هېڅ تیروتنه نه ده شوې، زه ددې تضمین درکوم.

د باګرت په پېړو شونډو موسکا خپره شوه:

– ته یې تضمین راکوې؟ که د ته نصب او مونتاژ د ټول لاین (جریان) تظمین راکوې، زه به ستا د ترفیع وړاندیز

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم وکړم. د پوزيترونيک مغزو جوړول **۷۵۲۳۷** عمليو ته اړتيا لري. هره عمليه له يوه تر پنځه سوو فکترونو پورې تړلې وی، که يوه کې يې هم ښکاره تيروتنه وشي ماغزه خرابيږی ... آش صيب دا ارقام مې له خپلو معلوماتي دوسيو درکړل.

ميلټن آش په فکر کې شو، ځواب ورکولو ته يې چې ځان جواړوه، په دې وخت کې د څلورم کس غږ شو چې ويل يې:

– که تاسو همداسې يو بل سره پړه کوئ او خبرې ورته کوئ، ښه به دا وي چې زه درته دا ځای پرېږدم.

(سوسن کالوين) د کاليو لمن جوړه کړه، رنګ وهلې شونډې يې راټولې کړې او ويې ويل:

– موږ له داسې يوه روبوټ سره مخ يو چې د انسان افکار لولي، زما په نظر د پېښې لامل بايد پيدا کړو، دا په دې نه کيږي چې زه دې تا ملامتوم او ته ما ...

لانينګ وويل:

– ته رښتيا وايې ډاکټر کالوين.

ناڅاپه يې په ترخه لهجه ورزياته کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هر څه همدلته راټول دي، موږ پوزيتروني ماغزه جوړ کړي، چې کولای شي فکري څپې را واخلي او تعبير يې کړي. نه پوهيږم دا څنګه چل شو، که علت يې پيدا کړو، دا په تيرو څو لسيزو کې د روبوټونو په برخه کې تر ټولو مهمه لاسته راوړنه ده، چې موږ کړې، موږ يې علت نه دی پيدا کړی او بايد پيدا يې کړو. پوه شوئ؟

باګرت پوښتنه وکړه:

- زه يو وړانديز کولای شم؟
- مهرباني !
- د يوه رياضي پوه په توګه وايم، چې کومه ستره تيروتنه شوې ده، زه وايم تر څو چې مو دا ستونزه نه وي هواره کړې د (آر بي ۴۳ ) کيسه به پربږدو، حتی له نورو غړو به يې هم پټه کړو، کوم اداري ريسان چې خبر دي ورته به ووايو چې دا ستونزه په هيڅ صورت نه حل کيږي.

ډاکټر کالوين وويل:

- باګريت ښه وايي، که د ستونزې خبره خپره شوه، د ربوټونو ضد کيسو ته به لمن ووهل شي او ټوله پروسه به تر پوښتنې لاندې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارينګ سګرټ ته کش ورکړ او سر يې د منلو په اشاره وخوځاوه، آش ته يې مخ کړ او ورته کړه يې:

– په لومړي ځل چې دې د فکر لوستلو خبره وکړه يوازې وې کنه؟ تا لکه چې ويلي وو؟

– زه بيا هم وايم چې يوازې وم او ډير ويريدلی وم. د (آر بي ۴۳) روبوټ نصب چې ختم شو نو اول يې لاندې ماته راوليږه ( ابرمان) نه و، څه شي پسې د باندې وتی و. ما روبوټ واخيست او د ازماينښت خونې ته مې يووړ، اول مې پام نه و، ماسره يې ډېرې ښې او منطقي خبرې وکړې، نيمايي لارې کې مې پام شو، چې کله مې ورسره خبرې نه وې کړې، ډير فکر مې وکړ، يوازې روبوټ ته مې کتلي وو... هغه زما په هدف پوه شو او ما سره په لاره روان شو.

سوسن کالوين په فکر کې ډوبه شوه، بيا يې سترګو ته ځير شوه او ويې ويل:

– فکر کوم، موږ لکه چې عادت شوي يو چې خپل افکار پټ وساتو.

لانينګ په وارخطايي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ښه نو... بیا خو یوازې موږ ځلور کسه پوهیږو کنه؟ موږ باید د یوه پلان له مخې کار وکړو، آش زه وایم ته د نصب کرښه (خط مونتاژ) له اوله تر اخره ټوله یو ځل بیا وګوره او هغه ټول عملیات یاداشت که چې د تیروتنې امکان پکې وي.

– آش غلي وویل، ډیر اوږد کار دی.

– هو ته باید په دې کار کې له هغو ټولو خلکو ګټه پورته کړې چې کار یې درسره کاوه، یو نفر هم مه رخصتوه، مهمه نه ده چې دا کار څومره اوږد دی، خو خلک باید پوه نشي چې ته دا کار ولې کوې؟ اورې؟

ځوان تخنیککر غلي وخندل:

– سمه ده، خو سخت کار دی.

لانینګ خپله څوکۍ کالوین ته تاوه کړه او ویې ویل:

– ته له یوې بلې لارې د دې کار کوشش وکه، ته د روبوټونو د اروا پوهنې متخصصه یې، د روبوټ په اړه بیا ځلي مطالعه پیل کړې او له اخره بېرته سر ته لاړه شې، په دې ځان پوه کړه چې هغه افکار څنګه لولي او بیا ورپسې ځي. وګوره چې (تلو پاتیک) قوت کې یې څومره زیات شوی دی او حواسو یې څه صدمه لیدلې ده؟ پوهه شوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکټر کالوین جواب ته په تمه نشو او پسې زیاته یې کړه:

– زه کارونه منظموم، بیا ټول معلومات او ترلاسه شوي ریاضیکي محاسبات هم ارزیابي کوم، باګرت به هم راسره پکې مرسته وکړي.

آش له څوکۍ راولاړ شو، په ښکلې او ځوانه څېره یې خندا خپره وه، ویې ویل:

– ښه زه به خپل کار شروع کم، ځکه زما کار تر ټولو ډیر دي، دې ځای نه سیده کار ته ځم.

ډاکټرې کالوین په خپل نظر بدرګه کړ، په لیدو کې بیخي ور ورکه شوه، په دې وخت کې لانینګ ورغبږ کړ:

– ډاکټر کالوین، ته پورته ځې چې (آر بي ۴۳) ووینې؟

هېڅ ځواب یې ورنه کړ.

سوسن کالوین چې راننوته آر بي ۴۳ خپلې فتو الکتریکي سترګې له کتابه راپورته کړې او ودرېد. کالوین په دروازه هغه لویه لوحه راوځړوله چې پرې لیکلي وو (ننوتل منع دي)، بیا روبوټ ته نږدې شوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ما درته د سوپر اتمي موټرونو په اړه څو کتابونه راوړې دی (هربي) ګورې يې؟

هر بي، آر بي ۳۴ډوله ربوټ ته ورکول شوی نوم و.، کتابونه يې واخيستل د يوه عنوان ته يې وکتل:

– ه، هم، (د سوپر اتوم تيوري)

د کتابونو پاڼې يې اړولې ويې ويل:

– ډاکټر کالوين کښېنه، دا يو څو دقيقې وخت نيسي.

اروا پوهه ډاکټره کېناسته او هربي ته يې کتل، هر بي تر ميز هاخوا ناست و او کتابونه يې زر زر لوستل.

له نيم ساعت وروسته يې کتابونه څنګ ته کړل:

– زه پوهيږم چې دا کتابونه دې ولې راوړي دي.

ډاکټر کالوين خفه شوه:

– هربي، زه پوهيدم، تاسره کار کول سخت دي، ته هر وخت مانه يو ګام مخکې يې.
– دا کتابونه هم همداسې دي، پوهيږې هېڅ مې نه خوښيږي. ځکه هېڅ په زړه پورې موضوع پکې نشته، ستاسو پوهه يوازې لږ معلومات او څو لنډې تيورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، هیڅ په لوستلو نه ارزي. ماته ستا افکار په زړه پورې دي، ځکه تا د متقابل تاثیر، تحرک او احساساتو په اړه زده کړې کړي.

ډاکټرې کالوین غلي وویل:

– زه پوهه شوم.

روبوټ زیاته کړه:

– زه فکرونه لولم، نه پوهیږم څومره ژور دي، زه هر څه سم نشم درک کولای، ځکه زما فکر هم یو څه هغو ته ورته دی، خو کوشش کوم، ستا کیسې را سره مرسته کوي چې درک مې نور هم ښه شي.
– هو خو زه ویریږم، که کومه احساساتي کیسه ولولې هسې نه چې هغه افکار هم زموږ د افکارو غوندې بې رنګه او تیاره وي.

د ډاکټر کالوین رنګ سور شو، ځان سره یې وویل:

– دا لکه چې پوه دی.

د هربي ټیټ غږ یې واورېد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو زه پوهیږم ډاکټر کالوین، ته تل د هغه په فکر کې ډوبه یې، نو زه خنګه پوه نه شم؟

د ډاکټرې کالوین رنګ ژیړ شو:

- چا ... ته خو به دې ویلي نه وي؟
- نه ، هیڅ را نه پوښتنه نه ده کړې.
- ښه ته څه فکر کوې؟ تا ته لکه چې زه ښه کم عقله ښکارم.
- نه ... نو دا خو طبیعي احساس دی.
- کېدای شي همدا طبیعي یې زما کم عقلتوب وي، ځکه زه بدرنګه یم.
- که یوازې فزیکي او بدني ښایست یادوې؛ نو زه قضاوت نشم کولای، زه پوهیږم چې نور ښایستونه هم شته.
- زه خو زړه هم یم.
- لا خو د څلویښتو شوې نه یې.
- هو د اته دیرش کالو یم، خو مخ مې سم د شپېته کلنو خلکو غوندې غونج شوی دی، هغه له پنځه دیرشو کالو هم کم دی، اوس هم ډیر ځوان او تکړه ښکاري. ته فکر کوې چې هغه ما ته راګوري؟ که زه هسې په تمه یم؟
- ته غلط فکر کوې، زما خبره واوره ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوسن کالوین ترې مخ واړوه، سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې:

- زه ولې داسې کوم؟ ته په دې خبرو څه پوهیږې؟ ته خو ماشین یې ، زه درته یو په زړه پورې مورد یم، د کتابونو په شان درته زه هم هیڅ اهمیت نه لرم.

ربوټ سر د هو په مانا وخوځوه:

- ته زما خبره واوره... که ته غواړې زه درسره مرسته کولای شم.
- څه مرسته ؟ نصحیت راته کوې؟
- نه، هغه خبره نه ده، زه پوهیږم چې نور خلک څه فکر کوم، مثلاً میلټن آش

څو ګړۍ چوپتیا خپره وه، بیا کالوین وویل:

- زه یې څه کوم چې هغه هر فکر کوي، بس چپ شه.
- زه فکر کوم ته غواړې پوهه شې چې هغه څه فکر کوې.

کالوین سر څوړند کړ، ساګانې یې تیزې شوې، بیا یې وویل:

- ته هسې لګیا یې.
- ولې؟ زه درسره مرسته کوم، میلټن آش ستا په اړه داسې فکر کوي چې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه غلی شو، اروا پوهې سر راپورته کړ:

– ښه نو؟

روبوټ غلي وويل:

– هغه په تا مين دی.

ډاکټره کالوين يوه دقيقه غلې وه، بيا يې وويل:

– ته تيروتی يې، سم تيروتی يې، هغه ولې په ما مين شي؟
– خو دا خبره رښتيا ده، هغه دا فکر نشي پټولای، مانه خو يې بيخي نشي پټولای.
– خو زه.. خو ... داسې..

ژبه يې ونښته او غلې شوه.

– هغه يوازې د انسانو ظاهر ته نه ګوري، پوهه يې هم ګوري، ميلټن آش چاسره يوازې د سترګو او وروځو لپاره واده نه کوي.

د سوسن کالوين، سترګې رپېدې، په لړځېدلي غږ يې وويل:

– خو هغه هېڅکله داسې څه نه دي کړي.
– تا ورته د څه کولو وخت ورکړی؟
– څنګه مې ورکړی وی، ما د سره داسې فکر هم نه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– سهي خبره ده.

اروا پوهه په فکر کې ډوبه شوه، بيا يې ناڅاپه سر راپورته کړ:

– شپږ مياشتې مخکې ورسره همدلته په فابريکې کې يوې نجلۍ وليدل، ښايسته او لوړه نجلۍ وه؛ خو په الف او ب نه پوهېده، ميلټن غوښتل هغه ته د روبوټونو جوړول ور زده کړي، ښه هغه نجلۍ څوک وه؟

هربي زر ځواب ورکړ:

– ښه زه پوه شوم چې څوک ښيې، هغه د ميلټن د ترور (خاله) لور ده او د مينې هېڅ خبره يې ورسره نشته.

سوسن کالوين د نجلۍ توب له جذبې سره له ځايه راپورته شوه او ودرېده:

– عجيبه نه ده؟ ما کله کله دا سې فکر کاوه، خو سمه مې نه شوه ګڼلای.

هربي خواته يې ورمنډه کړه، د هغه يخ او درانه لاسونه يې په لاسونو کې ونيول:

– ډيره مننه هربي، خير دی په دې اړه چا سره خبرې مه کوه، دا به زما او ستا راز وي، بيا هم مننه هربي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هربي اوسپنيزې ګوتې يې په خپل لاس کې زور کړې او روانه شوه.

هربي بيا کتابونه راواخيستل، هيچا دده فکر نشو لوستی او نه يې فکر کولای شو چې د هربي په سر کې څه فکر ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلټن آش پیټر باګرت ته وکتل او ویې ویل:

– یوه جمعه وشوه، چې سترګه مې نه ده پټه کړې، څو پورې به همداسې لګیا یم؟ فکر کوم تا وویل چې (د ) پوزیټروني محفظې بمبار کول یې ښه لاره ده.

باګرت خوله وازې وکړ، بیا یې وویل:

– همداسې ده، خو زه لا پر لیکه نه یم.
– ریاضي پوه چې داسې خبره کوي نو زه یې په مطلب پوهیږم، ختمېدو ته یې څومره وخت پاتې؟
– اړه لري.
– په څه پورې اړه لري؟
– لاتینګ پورې اړه لري، زموږ زوړ ملګری زموږ همفکره نه دی، له بده مرغه ستونزه یې دا ده چې لا هم په پخوانۍ زمانې کې اوسیږي، زیاتره له شاګردانو کار اخلي، دې کار لپاره قوي وسایل پکار دي، هغه بخل کوي.
– ښه ولې په دې برخه کې له هربي مرسته نه غواړو چې کارونه منظم کړي؟

باګرت خپلې وروځې راټولې کړې:

– روبوټ ته وو ایو چې دا کار راته وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو ! هغه زړې نجلۍ درته ونه ویل؟
- کالوین یادوې؟
- هو سوزي یادوم، هغه پوهیږي چې روبوټ جادوګر ریاضي پوه دی، تر ټولو سخت انتی ګرالونه بې له لیکلو او ځنډه په خپل ذهن کې حل کوي او تر ټولو ستونزمنې معادلې هم د سترګو په رپ کې حل کوي.

ریاضي پوه ورته ځیر شو، ویې ویل:

- ربښتیا وایې؟
- هو ! خو ستونزه دا ده چې ریاضي یې نه خوښیږي، ایله د مینې کیسې لولي.
- ډاکټر کالوین په دې اړه ماته یوه خبره هم نه ده کړې.
- ښه نو ... کالوین پرې تر اوسه خپله بررسي او مطالعه نه ده ختمه کړې. ته پوهیږې، چې څومره رازداره ده، چې کار یې خلاص شوی نه وي تر هغه یې نه ښکاره کوي.
- ډاکټر کالوین درته خپله وویل؟
- همم دا یې راته په لومړیو کې وویل وو اوس پکې بدلونونه راغلي دي.
- ښه نو ، په دې ښځې کې ګني بدلون نه دی راغلی؟
- د سرخۍ کارولو بدلون یې یادوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نه زه يې د سينګار د بدلون خبره نه کوم. د خبرو انداز يې درته ښيیم، داسې ښکاري لکه څه ته چې خوشاله وي.

– همم... کيدای شي مئينه شوې به وي.

آش ستر ګې پټې کړې، ويې ويل:

باګي ته چټيات وايې، ته ورشه له هربي سره خبرې وکړه او زه به دلته ويده شم.

– ماته دې روبوټ د کار کولو چل نه راښيي او نه يې کولای شي.

په ځواب کې يې يوازې خرهار واورېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیټر باګرت لاسونه په جیبونو دننه کړي وو، په ارامه او سنجیده لهجه یې وویل، هربي ورته غوږ و:

- زه خبر یم چې ته په دې شیانو پوهیږې، اوس درنه زه جدي پوښتنه کوم. د نصب په کرښې کې څه ستونزه راغلې ده، خو ډاکټر لانینګ یې نه مني، نه مو پرېږدي چې جوړ یې کړو، روبوټ هېڅ ځواب ورنکړ، باګرت وویل:
- ښه نو؟

هربي نقشو او محاسبو ته وکتل:

- زه پکې څه ستونزه نه وینم.
- فکر نه کوم، که تر دې مخکې لاړ شو.
- زه په دې کې لاسوهنه نشم کولای، ته په ریاضي تر ما ښه پوهیږې او .... ښه نو .. نه مې خوښیږي چې په دې کې کار ولرم.

د باګرت پر شونډو له رضایت ډکه موسکا خپره شوه:

- ښه نو ورک یې که ، زه په ستونزې پوه شوم.

پاڼې یې راټولې کړې، غوښتل یې چې بیرون راووځي، بلې ښه لاره یې ذهن ته راغله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– په هر صورت...

روبوټ په تمه و، داسې ښکارېدل چې باګرت له کومې ستونزې سره مخ شوی دی.

– یو شی شته چې کېدای شي ته یې وکړای شې...

بیا غلی شو...

هربي په قلاره خبرې پیل کړې:

– ستا فکر مغشوش شوی دی، د ډاکټر لانینګ په اړه فکر کوې، منکرېدل ګټه نه لري، ځکه زه پوه شوم چې ته مانه څه پوښتې.

ریاضي پوه وویل:

– لانینګ ۷۰ کلن دی.
– پوهېږم.
– دیرش کاله کېږي چې د دې فابریکې مشر دی.

هربي سر د تائید په نښې وخوځاوه.

باګرت په مهربانۍ وویل:

– ښه نو... ته د استعفا، تقاعد او ارام په اړه... څه پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هربي لنډ ځواب ورکړ:

– ښه سهي.
– ښه نو ... ته پوهيږې ؟
– هو !
– نو کولای شې ماته ووايې؟
– هو ! هغه همد اوس استعفا ورکړې ده.
– څه ؟ ته بيا ووايه !
– استعفا يې ورکړې، خو تراوسه نه ده منل شوې، ځکه په تمه دي چې زما ستونزه حل شي، بيا به خپل ځای بل ځای ناستي ته پرېږدي.
– ښه پر ځای به يې څوک راځي؟

دې خبرې سره هاربي ته نږدې شوی و او د روبوټ برقي سترګو ته يې کتل، دا خبره يې غلې غوندې واورېده:

– ته راتلونکی مشر يې.

باګرت د ارام ساه واخيسته او له موسکا په ډکه خوله يې وويل:

– له ډيره وخته په تمه يم، مننه هربي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیتر باګرت تر پنځو بجو د خپل میز شاته ناست و او د کتابونو او اسنادو په ډیرې کې بوخت و، نهه بجې بیا د خپل کار دفتر ته لاړ او د ریاضي په محاسبو بوخت شو. د اسنادو او کاغذونو ډیری یې د میز پر سر جوړ و، نږدې ماسپښین و چې سترګې یې پر وروستي کاغذ ونښتې، سترګې یې وموښلی، خوله وازی یې وکړ، اوږې یې پورته کړې:

– رنګ یې ورک شه، لا پسې سختیږي.

ناڅاپه دروازه ببرته شوه، ډاکټر لانینګ رانتوت، پوښتنه یې وکړه:

– څه شی پیدا شو؟
– نه!
– کالوین درسره د روبوټ په اړه خبرې کړي؟ هغه په ریاضۍ کې نابغه دی.
– اوربدلي مې دي، هربې مې امتحان کړ، د ریاضي محاسبې په سختۍ ترسره کوي.
– خو کالوین یې درسره نه مني.
– هغه لیونۍ ده.

د مشر (مدیر) سترګې له ډېرې غوسې وړې شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه پوهیږم، دا سې نه ده.
- ته ! ته د څه شي خبره کوې؟
- زه له سهاره تر اوسه هربې ازمویم، هغه ستونزې دومره زر حل کوي، چې فکر نه کوم پرې پوه شې.
- رښتیا ؟
- ته شکمن یې !

لانینګ له جیبه د لیک پاکټ را ایست، خلاص یې کړ، لیک یې پرانست:

- دا زما لاسلیک نه دی، سمه ده؟

باګرت په کاغذ غټ حروف ولوستل:

- دا هربي لیکلي؟
- سمه ده، که ښه پام ورته وکړې، پوه به شې چې هغه زما له معادلاتو ګټه اخیستې او ښه پرمختګ یې هم پکې کړی.
- ښه نو پرېږده، چې هماغه ماشین درته ټوله ستونزه حل کړي، په دې خبرو دې ماته مزاحمت مه کوه.
- همدا اصلي خبره ده، هربي یوازې نشي کولای چې ستونزې حل کړي، که هغه یې نشي کولای موږ یې هم نشو کولای، ځکه دا ستونزه زموږ له وسه پوره نه ده، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو وایم چې ټولې پوښتنې باید ملي علمي پلاوي ته ولیږو.

باګرت له ځایه په داسې ډول پورته شو، چې څوکۍ یې شاته ولوېده، له غوسې سور شین کېده، ویې ویل:

– دا کار ونه کړې.

لانینګ هم په خپل وار په هماغه اروایي حالت وویل:

– ته ما ته ستونزې جوړوې، چې کوم کار ونه باید ونه کړم؟

باګرت ځواب ورکړ:

– بالکل، ما په دې مسلې ډېر کار کړی او پایلې ته نږدې یم، ته غواړې اوس یې له ما واخلې، زه پوهیږم چې ته څه کوې، ته غواړې د روبوټ د ستونزې د حل ټول امتیاز یوازې خپل ځان ته واخلې او زه دې په هېڅ صورت نه پرېږدم. پوه شوې؟
– باګرت،ته کم عقل یې، زه دې پوه یوه ثانیه کې له دې ځایه ویستلای شم.
– ګوره لانینګ! داسې فکر مه کوه، چې د فکر لوستونکي روبوټ په شتون کې به ته کومه خبره پټه کړې، زه دې په استعفا خبر یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لانینګ لاسونه وریږدل، لومړی یې له سګرټه ایره او وروسته یې ټول سګرټ له لاسه ولوېد.

– څه... څه دې وویل؟

باګرت له موسکا په ډکې خولې وویل:

– زه نوی مشر یم او ستا ځای به تر تا ښه اداره کوم.

لانینګ خپله مرۍ پاکه کړه او چغه یې کړه:

– ته رخصت یې، دلته هېڅ وظیفه نه لرې، تللی شې، پوه شوې؟

د باګرت خندا لوړه شوه، ویې ویل:

– ستا فرمانونه نور د منلو نه دي، زه پوهېږم چې استعفا دې کړه، هربي راته وویل او هغه په تا پوه شوی و.

لانینګ غوښتل ارام شي او په ارام خبرې وکړي، رنګ یې له سور څخه په سپینیدو و، په ارامه سینه یې وویل:

– زه له هربي سره خبرې کوم، هغه داسې نشي ویلای، باګرت تا خطرناکه لوبه شروع کړې، زه ستا خبرې هسې اوازې ګڼم، ته راځه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

باګرت خپلې اوږې پورته کړې:

– چرته ؟ هرېې ګورې، څه چې څو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسپښین مهال آش له خپلې نقشې سترګې راپورته کړې، ویې ویل:

– ته پوهه شوې؟ دا نقشه د یوه کور ده.

سوسن کالوین ورته په یوه ځانګړي اندازه ولیدل، ویې ویل:

– اهمم، ډیر ښکلی، ما تل دا سې فکر کوه، چې خوښیږي مې...

خبره یې وژوله.

آش خپل قلم کېښود او په ډېره مینه یې زیاته کړه:

– ما دوه اونۍ رخصت غوښتی، په تمه یم چې راسره ویې ومني، خو ددې هربې موضوع ټول کارونه بند کړي، یوه بله موضوع هم شته، خو هغه راز دی.
– ښه نو ... ماته یې مه وایه.
– اوه ! ما باید مخکې درته ویلې وی. زه باید دا راز له یوه چا سره شریک کړم، دلته ته تر ټولو ښه او د باور وړ یې، یوازې تاته یې ویلای شم.

د سوسن د زړه درزا زیاته شوه؛ خو څه یې ونه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آش خپله څوکۍ لږه رامخکې کړه، سر یې ټیټ کړ او په ټیټ غږ یې ورته په غوږ کې خبرې پیل کړې:

– اصلي خبره دا ده، چې کور به یوازې زما نه وي، ځکه زه غواړم واده وکړم!

هغه له څوکۍ جګه شوه...

– ولې څه وشو؟ څه ستونزه ده؟
– هېڅ! تا ویل واده کوم؟ یانې دا چې...
– هو نو! همدا یې وخت دی، که څنګه؟ تیر اوړي کې چې دلته یوه نجلۍ راغلې وه، په یاد دې ده؟ غواړم له هغې سره واده وکړم... خو ستا حالت لکه چې ښه نه دی؟ ته...

سوسن کالوین په کراره څنګ ته شوه:

– هېڅ... سر مې خوږېږي! هغوی په دې ورځو کې زما په اړه ډېر فکر کوي، زه غواړم... ښه مبارک دې شه، ډېره خوشاله شوم...

رنګ یې د واورې په شان سپین شوی و، ویې ویل:

– وبښئ....
– هیله کوم...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غیر ارادي توګه له دروازې راووته، هېڅ پوه نه شوه چې په زینو ځنګه رابښکته شوه، لکه خوب یې چې لیده، ساه یې لنډېده، د دروازې چوکاټ ته تکیه شوه او د هربي اوسپنیز بدن ته ځیر شوه. د هاربي مخ ورته رانږدې کېده، یوه وحشتناکه ځېره ترې جوړه شوه، هربي ورسره خبرې کولې او دا پرې نه پوهېده، هربي یې د اوبو ګیلاس په شونډو کېښود، ځو ګوټه اوبه یې چې ترې شوې، په سد شوه، هربي لا په وارخطایۍ خبرې کولې، د هربي په خبرو لږه لږه پوهېدله.

– دا هسې خوب دی، مه یې منه، ته به زر ښه شې او اصلي نړۍ ته به وګرځې... بیا به په ځان پورې خاندې. تا ته وایم، هغه تا سره مینه لري ! دا هسې خیال دی، واقعت نه لري.

سوسن کالوین یې د سر په خوځوولو خبره تایید کړه:

– هو ! هو !

د هربي لاسونه یې په خپلو لاسونو کې موښل:

– دا دروغ دي کنه؟ دروغ دي کنه؟

پوه نه شوه، چې ځنګه خپلې نړۍ ته بېرته وګرځېده، خو داسې ښکارېدل لکه له یوې تیاره نړۍ چې بیرته یوې رڼې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ ته راګرځېدلې وي. زر يې خپل لاسونه د روبوټ له اوسپنيزو لاسونو راخلاص کړل، ويې ويل:

– ته څه کوې هن؟

بيا يې په لوړ غږ چغې کړې:

– ته څه کوې هن؟ووايه څه کوې؟

هربي لږ شاته لاړ:

– زه غواړم مرسته درسره وکړم.

اروا پوهه ورته ځير شوه:

– مرسته؟ که دا چې زه خوب وينم؟ ته غواړې چې زه د هېرولو او عصبي اختلال په ناروغۍ اخته شم؟

هغه غوسه شو:

– دا خوب نه دی ! کاشکې خوب وای ! صبر وکه ! ولې.... ولې؟

روبوټ په ويريدلي حالت وويل:

– زه مجبور وم !

– او ما دې هم خبره ومنله ! هېڅ مې باور نه راځي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوټې څخه د باندې يې لوړ غږ واورېد ، خبرې يې پرې شوې. دروازه بېرته شوه، باګرت ا ولانينګ راننوتل او بې له دې چې کالوين ته پام وکړي، د روبوټ خواته روان شول، لانينګ غوسه او نارامه و ، د باګرت په شونډو موسکا خپره وه، لومړی مشر (مدير ) خبرې پيل کړې:

– هربي ! زما خبرو ته ښه غوږ کېده!

روبوټ سر ټيټ کړ او د مدير خولې ته يې نږدې کړ:

– ښه ډاکټر لانينګ.
– زما په اړه دې له ډاکټر باګرت سره خبرې کړې؟
– نه ! ښاغليه !

باګرت ورمخکې شو ، ويې ويل:

– پرون دې ماته څه وويل؟ ته يې اوس ووايه !
– ما وويل چې...

هربي غلی شو ، باګرت چيغې کړې:

– تا راته ونه ويل چې ده استعفا کړې ؟ ته راوګوره !

باګرت لاس پورته کړ ، د ليونو په څېر د روبوټ پر لورې روان شو ، لانينګ ورمخکې شو ، هغه يې ونيوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته اوس په هغه دروغ وايې؟
- لانينګ !تا واورېدل، هغه غوښتل (هو ) ووايي خو غلی شو ، زما له مخې هاخوا شوه، زه غواړم حقيقت واورم ، پوه شوې !
- زه به ترې پوښتنه وکړم.

لانينګ روبوټ ته مخ کړ:

- ښه نو ... هربي، ارام اوسه،آيا ما استعفا کړې؟

هربي يوازې ورکتل، لانينګ بيا تکرار کړه:

- ما استعفا کړې؟

روبوټ په قلاره سر د (نه)په اشارې وخوځاوه، نور يې څه ونه ويل، غلی ولاړ و، دواړو سړيو يو بل ته په غوسه وکتل او نا څاپه باګرت وويل:

- دا څه کم عقلتوب دی، دا روبوټ ليونی شوی دی؟ دا اوسپنيز او بې عاطفې موجود خبرې کولای شي؟

روبوټ ځواب ورکړ:

- هو !زه خبرې کولای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– نو زما پوښتنه ځواب کړه، تا ماته ونه ویل چې لانینګ استعفا کړې ده؟ نه یې ده کړې استعفا ؟

بیا یې هم ځواب وانه وربد ، هر خوا چوپتیا خپره وه، تر دې چې له لېرې د سوسن کالوین خندا واورېدل شوه او سکوت مات شو. دواړه ریاضي پوهان حیران شول او په وارخطایۍ یې وویل:

– ته دلته څه کوې؟ ولې خاندې؟

کالوین په غیر طبیعي غږ وویل:

– هیڅ شي پورې نه خاندم… خندا په دې راځي چې زه یوازې نه یم، دی روبوټ موږ درې واړه متخصصین په دام کې ښکېل کړي یو.

لانینګ وپوښتل:

– د څه شي دام ؟ هربي کوم عیب پیدا کړی؟
– نه

په قلاره هغوی ته نږدې شوه:

– نه هغه کومه ستونزه نه لري، ستونزه په موږ کې ده.

ناڅاپه یې روبوټ ته مخه کړه او په چیغو یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ځه ورک شه دې ځای نه ! چې بیا دې دا مردار مخ ونه ګورم.

هربي د سالون بل سر ته روان شو، لانینګ په آمرانه لهجه وویل:

– ډاکټر کالوین څه خبره ده؟

ډاکټر کالوین مخ ور واړوه، په پیغور او کنایه یې ورته وویل:

– فکر کوم تاسو به د روبوټ جوړوني له لومړي قانونه خبر یاست؟

دواړو سرونه د (هو) په نښه وخوځول او باګرت وویل:

– روبوټ هېڅکله انسان ته زیان نه رسوي او د هر هغه کار مخنیوی کوي چې انسان ته ضرر پېښوي.

کالوین وویل:

– سمه ده؛ خو څه رقم زیان؟

– هر ډول زیان... ولې؟

– هو هر ډول... خو احساساتو ته زیان رسول څنګه ؟ د انسان د ارمانونو ماتول څنګه ؟ دا ټول هم زیان دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لانینګ وویل:

– روبوټ په دې خبرو څه پوهیږي...
– دا روبوټ فکرونه لولي، بیا هم فکر کوې، چې د احساساتو په اړه په هېڅ هم نه پوهیږي؟ که څوک ترې پوښتنه وکړي او دا هغسې ځواب ورنکړي چې پوښتونکی یې غواړي آیا زموږ نورو ځوابونو ته زیان نه رسوي؟ هربي په دې ټولو نه پوهیږي؟

باګرټ غلي وویل:

– اووف خدایه !

اروا پوهې په مانا داره نظر ور وکتل:

– زه فکر کوم کله چې تا له هربي وپوښتل، چې لانینګ استعفا ورکړې، نو همدا ځواب دې غوښته چې (هو) استعفا یې ورکړې او هغه هم درته همدا وویل.

کوټه کې چوپتیا خپره وه، کوز سر کې روبوټ ناست و، خپل سر یې په لاس تکیه کړی و.

سوسن کالوین سترګې د سالون په فرش ښخې کړې وې، ویې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– هغه په دې ټولو پوهیږي... هغه ... هغه شیطان په هر څه پوهیږي، حتی په هغې تیروتنې هم پوهیږي چې د نصب پر وخت له موږ شوې ده.

لانینګ سر راپورته کړ:

– ډاکټر کالوین ته اشتباه کوې او هغه نه پوهیږي چې څه تیروتنه شوې ده، ما ترې پوښتنه کړې.

کالوین چغه کړه:

– ستا مطلب څه دی؟ تا نه غوښتل چې هغه درته کومه حل لاره وښایي. تا چې کوم کار نه شو کولای که ماشین کړی واې، ستا احساسات نه ټپي کېدل؟

له باګرت یې وپوښتل:

باګرت وټوخل، رنګ یې سور شو:

– هغه ماته وویل چې په ریاضیاتو لږ پوهیږي.

لانینګ غلي وخندل، اروا پوهه هم مسکه شوه، ویې ویل:

– زه له هغه پوښتنه کوم، هغه لاره چې ماته یې ښیي زما احساسات به نه ټپي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په لوړ غږ او آمرانه لهجه وویل:

– دلته راشه !

هربي له خپل ځایه راپورته شو ، کالوین غلي وویل:

– فکر کوم، ته پوهیږې چې د نصب په وخت کې کوم شی پاتې شوی، یا کوم څه درزیات شوي دي.

هربي په خپ غږ وویل:

– هو

باګرت په غوسه وویل:

– صبر وکه ! دا دروغ دي، ته غواړې همدا ځواب واورې.

کالوین ځواب ورکړ:

– لیونی کیږه مه ! زه ډاډه یم چې هغه تاسو دواړو هومره پوهیږي، ځکه هغه افکار لولي.

ریاضي پوه غلی شو او کالوین ادامه ورکړه:

– ښه ډیر ښه ... ښه هربي وایه نو ... چي وایې ورو ، ښاغلیو تاسو یو قلم او کاغذ راوړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هربي چپ پاتې، شو اروا پوهې وويل:

– هربي ولې ځواب نه راکوې؟

روبوټ وويل:

– زه نشم کولای، ډاکټر کالوین ته پوهیږې زه نشم کولای، باګرت او ډاکټر لانینګ نه غواړي چې زه څه ووایم.
– هغوی حل لاره غواړي، ددې معما ځواب.
– خو له ما یې نه غواړي.

لاننیګ وویل:

– هربي، کم عقل کیږه مه ! موږ غواړو له تا یې واور.

باګرت یې هم د سر په خوځولو خبره تایید کړه.

د هربي غږ په وحشتناکه توګه لوړ شو:

– دا خبرې هېڅ تاثیر نه کوي، تاسو په دې نه پوهیږئ چې زه فکرونه لوستلای شم، تاسو نه غواړئ چې زه یې ووایم، ځکه زه ماشین یم، زما ماغزه پوزیتروني دي او انسان جوړ کړي دي، بې له دې چې ستاسو احساساتو ته زیان رسیږي، نشئ کولای چې له ما حل لاره وپوښتئ، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو په ذهن کې پخه شوې او پاکيږي هم نه، زه هم نشم کولای چې تاسو ته حل لاره وښييم.

ډاکټر لانينګ وويل:

– موږ ځو، ډاکټر کالوين ته يې وواېه.

هربي چغې کړې:

– هېڅ فرق نه کوي، ځکه تاسو به په هر حال پوهيږئ چې ځواب ما ويلې دی.

ډاکټر کالوين وويل:

– هربي ستا پام دی، چې باګرت او ډاګټر لانينګ په هر حال غواړي پوه شي، ته پوهيږې او که حل لاره ونه ښايې ددوی احساسات به ټپي شي، همداسې نه ده؟
– هو ! هو !

او که يې ووايې هم ددوی احساسات به ټپي شي.

– هو ! هو !

هربي شاته روان و، کالوين ورمخکې کېده او دواړو رياضي پوهانو حيران ورکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– ته نشې ویلې، ځکه ستا ویل دوی ته زیان رسوي، نو باید ویې نه وایې. ته یې باید ووایې، که ویې نه وایې ددوی احساساتو ته زیان اوړي، ته یې باید ووایې او ته ...

کالوین څو ځله دا خبرې تکرار کړې، تر دې چې هربې په ګونډو شو او چغې یې کړې:

– بس دی ! ستا فکر له درد او کرکې ډک دی، زما پکې هېڅ موخه نه وه، ما غوښتل تا سره مرسته وکړم، ما درته هغه څه وویل چې تا اورېدل غوښتل، زه مجبور وم، بله لار مې نه لرله !

اروا پوهې یې خبرو ته پام ونه کړ:

– ته باید دوی ته ووایې، که یې ونه وایې زیان ور رسیږي؛ نو ته باید دوی ته ونه وایې، که دې ورته وویل زیان ور رسیږي... نو ....

هربې چیغې کړې !

چغې یې ورو ټیټېدې، غږ یې چې بند شو، پر یوې بې احساسه او سپینې بدل شو، د باګرات رنګ والوت، ویې ویل:

– هغه مړ شوی دی !

(c) ketabton.com: The Digital Library

کالوین په لوړ غږ وخندل، ویې ویل:

– نه ! مړ شوی نه دی، لیونی شوی دی، ما له دوو متضادو او نه حلېدونکو قضیو سره مخ کړ، هغه به هېڅکله خبرې ونه کړي.

لانینګ د هغه توکي په خواکې کېناست چې یو وخت یې هربي نوماوه، د هغه په اوسپنیز مخ او ځان یې ګوتې راکش کړې، ویې ویل:

– تا دا کار له قصده وکړ.

کالوین په ترخه لهجه وویل:

– هغه سره همداسې پکار و، اوس ورسره ته هېڅ مرسته نشې کولای.

لاننیګ باګرت له لاسه ونیوه، ویې ویل:

– راځه پیټر، اوس هېڅ نه کیږي، داسې روبوټ اوس هېڅ ارزښت نه لري.

د زوړ سړي سترګې ستړې شوې وې، بیا یې تکرار کړه:

– راځه پیټر !

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړه پوهان له دې ځايه ووتل، کالوين ځان راجوړ کړ، ذهن يې ارام کړ، د هربي اسکليټ ته يې وکتل، ډير وخت ورته ځير وه، د بريا نښې يې له څېرې ورکې شوې، د عجز او سترړيا نښې پکې راښکاره شوې، د ټولو زرينو خوبونو او افکارو ځای يې ونيوه، يوازې يوه جمله يې په ژبه جاري شوه

دروغجنه !

(پای)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**